## څو پارونکی پښتو غزلي

-------------------------------

### ا فسا نه کړم

**هومره مینه درسره کړم که رضا ستا په زړه کړم**
**چي د میني په تاریخ کي پا تی لویه افسا نه کړم**
**هسي ودی نازومه چي حسرت د نور خوبان شي**
**چی می تا ته خپل ځا ن ستا په مینه ازموده کړم**
**په یادونوچي کړي یادځما اورین مینی دی ځا نته**
**چي دسپین مخ په شغلودی لکه موم ځان اوبه کړم**
**دا نتظا ر سترګي مي څا ری دراتګ ستا قد مو نه**
**چي دستا د قد م خا وری مل په سترګورانجه کړي**
***** جرمنی (07-02-2020)

### ازموده که

*پرما چي دی با ورشی یوځلي مي ازموده که*
*له سري نازکي شونډی خولګی دی مي په خوله که*
*راتا ووکړه دواړه لاس دی له ملا مي په ټینګه*
*زلفا ن دی په نخرو ګڼ په مخ مي خوره که*
*د تیرو ترخو ورځو د بیلتون په بد له کي*
*د شونډو د بوسو په تسلسل می ښه نیشه که*
*زنګون با ندي دی پریږده چی کیږدم خپل سر*
*پخپل پستو خبرو دی خپل (مل) په خوب ویده که*
****جرمنی «09-02-2020»

## ژړلي

بی تا مي په بيلتون دی ډير بی واک ژړلي دي
چي ته مي رايا د شوی يي درد ناک ژړلي دي
خا طر ته مي راوړي ستا د نا ز خوږی شيبي
بی اختيا ره تا پسی می په پژواک ژړلي دي
ما هيڅ نه انګيرله چي له تا به جدا کيږم
په حسرت ستا دوصال مي بی باک ژړلي دي
په سترګومي خوب نه وه اړخ په اړخ تا ويدم
دستا د يدارپسی دي (مل) سوزناک ژړلی دي

**** جرمنی «2020-02-11»

## مينه وکړو

راځه چي چيرته لاړ شو بی جنجا له مينه وکړو
چی زړه ته مو شي مينه هرمها له مينه وکړو
د ډيرو رقيبا نو له سترګو ځا ن پناه کړو
يو بل سره په شوق بی مثا له مينه وکړو
ته ما ته په نا ز وګوري زه ستا نا زونه واخلم
په شوق اوپه رغبت او په کما له مينه وکړو
د ميا شتو اود کلونو د بيلتون تنده ما ت کړو
پا لنګ د پا سه دواړه بی خيا له مينه وکړو
د«مل» سره د مينی له جامه ځان سيراب کړو
نيشو کي سره دواړه بی ملاله مينه وکړو

***** جرمنی «2020-02-04»